خدمات حقوق مهاجرت برای افغان ها
ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES FOR AFGHAN ARRIVALS

https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

# د افغانانو لپاره د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت په اړه ځني معمول پوښتل شوي پوښتنې

**لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت کوم حالت ته ویل کېږي؟**

لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) د هغه وګړو د پاره دی چې خپل هېواد ته د دوی ځاني امنیت د نه شتون د وجې نشي ستنېدلای. لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت یو لنډ مهاله د حل لاره ده چې دافغانستان اتباعو ته اجازه ورکوي چې په متحده ایالاتو کې په قانوني توګه پاته شي.

**څوک د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) د شرایطو مطابق ګڼل کېږي؟**

هغه وګړي چې په افغانستان کې زیږیدلي دي، یاهغه کسان چې تابعیت نه لري او متحده ایالاتو ته تر راتلو مخکې په افغانستان کې اوسېدل.

تاسو باید لاندې شرایط هم پوره کړئ:

- د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر د میاشتې د ۲۰مې نېټې یا تر هغه مخکې یې په متحده ایالاتو کې ژوند کړی وي
- د ۲۰۲۳کال د نومبر د میاشتې د ۲۱مې نېټې راهیسې د متحده ایالاتو څخه نه وي وتلی
- په کوم جدي جرم یا جرایمو کې نه وي ښکیل شوي

**د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) ګټې څه دي؟**

- د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) په اساس تاسو په متحده ایالاتو کې تر هغه مودې پورې د پاته کېدو قانوني حق لري چې د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت موده د اعتبار وړ وي.
- اوسنۍ د اعتبار موده د ۲۰۲۵ کال د مې د میاشتې په ۲۰مه نېټه ختمیږي
- تاسو کولای شئ د کار د اجازې سند ته غوښتنه وکړئ
- د لنډمهاله حفاظت شوی وضعیت (TPS) د لارې د متحده ایالاتو څخه بهر سفر کولو لپاره تاسو کولای شئ د حقوقي خدماتو د وړاندي کوونکو څخه پوښتنې وکړئ

**د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) محدودیتونه څه دي؟**

- لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) په متحده ایالاتو کې دایمی قانوني اقامه یا تابعیت نه ورکوي
- د کورنۍ هر غړی، د ماشومانو په ګډون باید خپل د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) لپاره ځانته غوښتنه وکړي
- دا مهمه ده چې د خپل د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) د ختمیدو نیټې ته پام وکړئ
- که چیرې د متحده ایالاتو دولت د افغانانو دپاره د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) موده نوره هم وغځوی، پر هغه برسیره تاسو باید د اعتبار د مودې د ختمېدو څخه مخکې خپل لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت له سره ثبت او راجستر کړئ .

که ستاسو لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) د اعتبار موده ختمه شي، تاسو به بیرته د مهاجرت پخوانی حالت ته ستون شئ، یا هغه حالت چې تاسو د دې وضعیت مخکې درلودی.

**کله باید درخواست ورکړئ؟**

که تاسو علاقه لرئ او غواړی لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) ته دوام ورکړئ، تاسو کولای شئ د ۲۰۲۵ میلادي کال د مې د میاشتې تر ۲۰مې نېټې پورې غوښتنه یا درخواست وکړئ.

**څنګه باید درخواست ورکړئ؟**

تاسو کولی شئ د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې (USCIS) ته د بریښنالیک یا آنلاین له لارې د [Form I-821](Form I-821) فورمه چې د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت په نوم هم پیژندل کېږي، ډکه کړئ.

که تاسو غواړئ په متحده ایالاتو کې د کار کولو جواز لپاره درخواست ورکړئ، نو د کار د اجازه نامې لپاره [Form I-765](Form I-765) فورمه ورسره ضمیمه کړئ. که تاسو د پرول وضعیت لرونکی افغان یاست، ضرورت نشته چې د دغه فورمې لپاره فیس ورکړئ.

په غوښتنلیکونو کې باید لاندیني اسناد شامل وي:

- د هویت ثبوت
- د تابعیت ثبوت

د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره جمتو شوي او باید د هیڅ دول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادراي څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادې سیالی له لارې ترلاسه کړي دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه(۱۰۰٪) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.

- هغه نېټه چې تاسو متحده ایالاتو ته داخل شوي یاست
- د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر د میاشتې د ۲۰ مې نېټې څخه مخکې په متحده ایالتونو کې ستاسو د استوګنځی پته

مرسته کوونکي اسناد کیدای شي چې پاسپورټ، تذکره، د زېږېدني سند، Form I-94 ، دخولي/خروجي سفري سوابق او د کور د کرايې بل يا د برق بل. د نورو معلوماتو په اړه د خپل وکیل سره خبرې وکړئ.

لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) ته د لومړي ځل لپاره د غوښتنلیک فیس ۵۰ امریکایي ډالره دی. د هغه کسانو لپاره چې عمر یې د ۱۴ کلونو څخه پورته وي، ۸۵ امریکایي ډالره د ګوتو د چاپ فیس ورته ټاکل شوی دی.

که تاسو د فیس د تحویل توان و نه لرئ، د فیس د معافیت (fee waivers) په نوم مالي مرسته شته. که تاسو د فیس په محاسبې کې مرستې ته اړتیا لرئ، د مرستې لپاره د (USCIS) د فیس د محاسبې وسیله (USCIS Fee Calculator) وکاروئ.

**ایا زه کولی شم د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS)په لرلو سره د کډوالو د بیا میشتیدنې د دفتر (ORR) ګټې هم ترلاسه کړم؟**

هو، ستاسو لنډمهاله حفاظت شوی وضعیت (TPS) ستاسو د کډوالو د بیا میشتیدنې دفتر (ORR) پر امتیازاتو باندې اغیزه نلري. تاسو کولای شئ اوسنې امتیازاتو ته دوام ورکړئ او یا غوښتنه وکړئ.

**آیا زه کولی شم د نورو مهاجرتی اسانتیاو لپاره غوښتنه وکړم پداسې حال کې چې لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) هم همهاله تعقیب وم؟**

هو.

**که زما د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) نېټه پای ته رسیدلې وي، ایا زه کولی شم د سره غوښتنه وکړم؟**

د سره نوم لیکنې وروستی نېټه د ۲۰۲۳ کال د نومبر ۲۴مه وه. که غواړی تر ټاکلې وخت وروسته (ناوخته) غوښتنه وکړئ، د خپل حقوقي خدماتو د وړاندې کوونکي څخه مرسته تر لاسه کړئ.

**نورې معلوماتي سرچینې**

- **د افغانانو لپاره معلومات – د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداره (USCIS)**
- **لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت د افغانستان لپاره – د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداره (USCIS)**
- د نویو راغلي افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه (**ILSAA**) پر شرایطو برابر افغانانو ته وړیا حقوقي خدمات وړاندې کوي. د خدماتو او د لا نورو مرستو د غوښتنې لپاره ILSAAinfo@icf.com سره اړیکه ونیسئ.

د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوي او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادې سیالۍ له لارې ترلاسه کړي دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه(۱۰۰٪) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.